ټکونه

# زۀ دې بادشاه شم

ټاکو

داسې به په دنیا کښې څوک وي چې د هغه دا خواهش نۀ وي چې ,,زۀ دې بادشاه شم،،. د بادشاهۍ خوبونه لیدل څه بده خبره نۀ ده. ځکه چې خوب یوه داسې د تفریح ذریعه ده چې یوه پیسه پرې نۀ لګي. پخوا به پاکستان او هندوستان کښې د تفریح یا وخت تېرې دپاره د ټولو نه ارزانه ذریعه سنیما هال کښې فلم کتل وو. خو خوب لیدل د سنیما د فلم نه هم ارزانه ذریعه ده. لېکن خوب بس خوب وي چې بنده پکښې هر هغه څهویني چې په ویښه ئې نۀ شي لیدلے. خو ځینې خوبونه خلق وائي چې رښتیا کېږي هم.

دا خبره هم ډېر مشهوره شوې ده چې دا نن چې د زمکې په مخ د پاکستان په نوم کوم مملکت موجود دے دا اول خوب کښې د اردو او فارسۍ یو شاعر علامه محمد اقبال لیدلے ؤ روستو بیا دا د هغه خوب مطابق جوړ کړے شوے دے. علامه صېب د پاکستان د جوړېدو نه اووه کاله مخکښې الله پاک ځان ته بللے ؤ. هغه ژوندے نۀ دے چې څوک ترې تپوس وکړي چې تا رښتیا خوب لیدلے ؤ؟ او خوب کښې چې دې کوم پاکستان لیدلے ؤ دا هم هغه دے که نه بل قسم دے.

صوفي جان سره مې یو ځل په دې موضوع خبره کوله نو هغه را ته د عادت مطابق غصه شو. غصه را ته په دې شو چې ما ترې پوښتنه وکړه چې خوب او تهیوري (Theory) کښې څه فرق دے؟ زما پوښتنه ډېره ساده وه او بې ضرره وه خو پته نشته چې صوفي جان پرې ولې راته تندے تریو او سترګې سرې کړې او خبردار ئې کړم چې کوم ځائې دې نۀ ګرېږې هغه مۀ ګروه.

ما ور ته وئیل چې تهیوري اول خلق زده کړي یعنې کتابونه ولولي،لیکچرې واوري نو بیا د هغې په اساس عملي تجربه شروع کړي. نو دغسې خوب هم وي اول بنده خوب ویني نو د هغې په رڼا کښې بیا بنده عمل شروع کړي. لکه علامه اقبال صېب خوب ولیدو. خوب به ئې چاته اورولے وي او بیا به اورېدونکو په هغې کار شروع کړے وي. په نتیجه کښې اوس مونږ ته نۀ صرف پاکستان ښکاري بلکې مونږ په کښې وسېږو.

صوفي جان چشمې په مېز راوبغولې خو ماتې نۀ شوې ځکه چې د صوفي جان چشمې اوس دې عمل او د صوفي جان غصې سره عادي شوې دي. صوفي جان ګویا شو چې د خوب نه مطلب هغه خوب نۀ دے کوم چې ئې سړے په اودو ویني.

ما ور ته ووئیل ښه ښه اوس پوهه شوم. دا خوب په ویښه علامه صیب لیدلے ؤ. صوفي جان بیا مخ بل طرف ته واړولو او راته ئې ووئیل چې چائې اوڅکه یخې شوې. خبر زما او د صوفي جان دغه بحث مباحثه د مودو راهسې راروانه ده. کله یو بل نه خفه هم شو خو پخلا کیږو ډیر زر. او د هغې وجه دا ده چې د دواړو د یو بل نه بغیر ګزاره نۀ کیږي.

د علامه صیب خوب د هغه د وفات نه پس شهرت موندے دے. د علامه صیب د شعرونو چې کومه تشریح کیږي معلومه نۀ ده چې د هغۀ روح به څومره بې قراره وي. خو د هغه د ځوي جاوید اقبال مرحوم د صبر پیمانه اخر ډکه شوه او وې وئیل چې ماته پته ده چې زما د پلار د شعرونو دا مقصد کله هم نۀ دے کوم مقصد چې ترې د ,,اقبالیاتو،، دا پوهان اخلي.

د علامه صیب هستي ډیره لوړه ده د هغه خبرې دومره ګرانې هم نۀ دي څنګه چې دې خلقو ګرانې کړې دي. د علامه صیب د فکر نه ځینې خلقو ناجائزه فائده اوچته کړې ده. هغه کله هم دا نۀ دي وئیلي چې ,,ما خوب لیدلے دے،، خو دا خلق خوبونه ویني او هغه هم په ویښه. حالانکې خوب بغیر د اودۀ کیدو نه څوک نۀ شي لیدلے لکه څنګه چې جنت د مرګ نه مخکښې څوک نۀ شي لیدے. یعنې جنت ته د تلو دپاره مرګ شرط دے. مرګ حق دے خو په خپل وخت خوند کوي. خو دا ځینې خلق جنت ته د تلو دپاره دومره لیواله دي چې کوشش ئې دا وي چې زر تر زره مړ شي. او چې نۀ مړ کیږي نو ځان ووژني یعنې خودکشي وکړي. دوي کم عقلو ته دا نۀ ده معلومه چې ځان وژنه حرامه ده. او چې څوک دا حرکت وکړي په هغوي جنت حرام دے.

دغه شان کوم خلق چې ځان په دې جهان د ټولو خلقو نه اوچتول غواړي هغوي خوب لیدل غواړي او خوب لیدلو دپاره بې وخته اودۀ کیږي. او د بده مرغه دا خلق خوب لیدلو ته دومره بې قراره شي چې خوب ور ته نۀ ورځي او دغه شان د بې خوبۍ د مرض ښکار شي. بې خوبي ډیر خطرناک مرض دے. الله دې ترې ما او تاسو په امان وساتي. د بې خوبۍ په مرض اخته خلق بیا په ویښه خوب ویني او دا خوبونه ډیر ګډوډ وي. دوي کۀ افسر نۀ وي نو ځان ور ته افسر ښکاري. کۀ وړوکے افسر وي نو ځان ور ته لوئې افسر ښکاري. او چې ملا وي نو ځان ور ته ډیر پوهه، عالم او نور خلق ور ته جاهلان ښکاري. او دا مرض دومره عجیبه دے چې دغه ملا صیب بیا عجیبه عجیبه خوبونه ویني. دے وائي چې دے دې ولې د ملک صدر یا وزیراعظم نۀ وي. دې قسمه ملیانو کښې یو طاهرالقادري نوم یو سړي ډیر غټ نوم پیدا کړے دے. دۀ د وزیراعظمۍ د چوکۍ نه بغیر کمه ټیټه کرسۍ د خپل شان سپکاوے ګڼلو. شاید چې د دۀ خوبونه تالا ترغه

شوې دي.

عـمران خان اول د پاکستان د کرکټ د ټیم کپتـان ؤ. خـوب ئې ولیدو چې تهٔ ډېر لوئې سړے ئې. تا او نوازشریف کښې څه فرق نشته. هغه هم لاهـورے دے او تهٔ هم لاهورے ئې. هغه د مشرقي پـنجاب د جائي عمره نه راغلے دے او ستا مور بي بـي د مشـرقي پنجاب د چالندهر نه راغلې ده. چې نـوازشـريف وزيـراعـظم کېدے شي نو تهٔ ولې نهٔ شي کېدے. کهٔ هغه سره کارخانه دار او تاجران دي نـو تـاسـره د کـرکټ شوقيـان دي.ملا ئې وتړلـه مېـدان تــه راکـوز شـو. د کــرکټ د ګـلـو کـوڅو لـوبغـاړي ئې ځـان سـره کړل. هـغـه غر او دا غر ويشتـل ئې شـروع کړل. کوشـش ئې دا دے چې خپـل خـوب عملي کړي. خو خيال مې نهٔ دے چې دے دا وړی شړی کړي. دهٔ دا اوريـــدلې دي چې عـلامـه اقبال د پاکستان جوړېدو خوب ليدلے ؤ او پــاکستــان جـوړ شـو. دهٔ هـم خوب ليدلے دے او وزيـراعـظـم بـه شـي. خو د دې نه نهٔ دے خبر چې عـلامـه صېب پسې دا د خوب خبره هسې چا تړلې ده هـغـه کـله هم د داسې قسم خوب ليدلو دعوه نهٔ وه کړې.

عـمـران خان او طاهرالقادري مې صرف د مثـال په توګه پېش کړل. دا قسمه خوبونه نور هم ډېـر خـلق لګيا دے ويني او ليدلي ئې هم دي خو د خـوب تعبير هغه نهٔ وي د کوم چې خوب ليدونکے تـعبير راوباسي. قاضي حسين احمد مرحوم هم دا قسـمــه خـوب ليدلے ؤ خو هوښيار سړے ؤ د خپل قسم ډېر زر ئې د چا نه تپوس وکړو او هغوي ور ته ووئيل چې ستا د خوب تعبير دا نهٔ دے کوم چې تهٔ ګڼې. په قلاره کښېنه.

پــه پښتـونـخـوا کښې هم د خوب ليدلو رواج زيـات شـوے دے. د وزيـراعـلی په چوکۍ د نـاستې خوبونه خو دومره زيات شوې دي چې خلق ئې حېـران کړې دي. هـر يـو ليډر چې غـټـه جلسه وويـنـې نو د وزيراعلی جوړېدو خوب ليدل شروع کړي. او خپـلو نعره بازو ته حکم وکړي چې زما د وزيـراعلی کېدو چغه ووهئ. هغوي چغه کړي او د چـغې سـره دهٔ ته ځان وزيراعلی وزيراعلی ښکاره شي.

دا د خـوب ليدلو مرض دومره زيات شوے دے چې کهٔ پـه وخـت ئې علاج ونهٔ شو نو دا مرض نهٔ صـرف د مـوجـوده مـريـضانو سرونو ته نقصان رسـولے شـي بلکې دا مرض خورېدے هم شي. نن سبـا سيـاسـتـدانان دې مرض کښې زيات اخته دي هـر يـو دا خـوب ويـنـي چې دے دې وزيـراعظم يا وزيراعلی شي.

لکه څنګه چې به پخوا څوک ليونے شو نو دا بـه ئې وئيـل چې ,,زهٔ دې بـادشـاه شم،،. او دغه شـان پــه تـخت ناست بادشاه به توره راويسته او د خپـل دې دښـمـن سـر به ئې قلم کړو. خدائے دې د وزيـراعـظـم او وزيـراعـلی جوړېدونکو سرونه په امان وساتي.